**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر رحمت ربی ځیرک یار ۲۰۱۸/۱۰/۲۷

# پـلورالـیزم + سیکـولـریزم = د اســلام پــرمـخــتـیـا
# د دسـتـورالـمـدیـنـي په رنـا کې
(پینځمه برخه)

**د دین او سیکولریزم ګیلې او نانـدرۍ:**

فیل ځوکـرمن لـیکي چې د هـیټـلر د ټـول وژنـو(هــولـوکاسـت) پــه مـهـال:
«هرڅـومـره چې خلک غیردیني وي، هغـومره هغـوی احتمال لاره چې د تعقیب لانـدې یهـودانو ته نجات ورکړي.
په شلمه پـیـرۍ کې د نـړۍ یـوې نامتو علمي کوپـړۍ آلـبَـرت آیـنـشتاین داسـې ویلي وو چې: «دیـو انسان اخــلاقي سـلوک باید واقعاً د هغه په همدردۍ، تعلیم، او ټولـنـیزارتباط ولاړ وي؛ هـیڅ دیـنـي اساس ته اړتـیـا نشتـه. انسان به واقعاً په یو بدبخت حالت کې وي، که هغه د جزا د وېـرې له امله مهار شوی وي او له مـړینې نه وروسته د اجـر په هیله وي.»
کارل مارکس (۱۸۱۸تر ۱۸۸۳) جرمن اقتصاد پوه او سیاسي مفکر په فلسفه شخوند نه واهه، بلکې د خپل اقتصادي- سیاسي فکر د عملیاتي کولو په لټه کې و. هغه ویلي وو: «فیلسوفـانو نړۍ په بیلابیلو ډولونو یواځې توضیح کړې ده؛ خو مهمه دا ده چې بدله یې کړو.». مارکس د کار وېـش او د طبقي وېش ته کلک پام کاوه، او اوسنۍ حالت(ستاتوسکو*) یې نشو منلی. د مارکس غښ فکري ملګرې پانګه وال او سیاسي مفکر فریدریښ اِنـګلـز و(۱۸۲۰تر ۱۸۹۵) چې متدین خو منتـقـد عیسوي و او ریــفـورم - کالوینیست کورنـۍ ته منسوب و. د اِنګلز د مولوي نوم ف. و. کرومـخـر** و چې یو ډول انقلابي مولوي و څکه د قدرتمندانو او مَرو(غني)خلکو په ضد یې وینا کوله.

*) STATUS QUO **) F.W. KRUMACHER

Michael Loewe, Friedrich Engels on Religion and Class Struggle. Science & Society, Vo. 62, No. 1, Spring 1998, pp 79-87; Roland Boer, "Revolutionary Christianity: Friedrich Engels and the Aufhebung of Religion," (18 June 2014), in Political theology.com[22-06—2017]. Karl Marx and Friedrich Engels, On Religion. Paperback (Dover Publications Inc., May 2008); Joseph Martin, Marxism and Religion Yesterday and Today. Paperback, May 2009; Charles Taylor, A Secular Age. The Belknap Press of Harvard University Press, 1st ed. (Sept. 20, 2007); Michael Loewe, Friedrich Engels on Religion and Class Struggle. Science & Society,Vol. 62,No. 1, Spring 1998, pp. 79-87

**په کاناډا کې د یوې سرپـټي اومخ لوڅې عالمې مسلماني مېرمنې چـغـه:**

مونیا مزیغ په تونیس کې زېږېـدلې او لویه شوې وه. په ۱۹۹۱کې کاناډا ته کډواله شوه او هلته یې د ډاکترۍ علمي درجه لاسته راوړه. ډاکتر مونیا مزیغ لیکواله ده، مسلمانه ده، د سـر وینـتـان یې په ټوکر تړلي وي، د بشر د حقوقو پلوې ده، او د ټولنیزو او سیاسي چارو په اړه په عربي، انګرېـزي او فرانسوي ژبو لـیکـنــې لري. ما د هغې لانـدې لیکنه راالنده کړې ده:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ



Dr. Monia Mazigh
MONIA MAZIGH, WHAT IT MEANS TO BE A MUSLIM WOMAN? (MONIA MAZIGH. WORDPRESS)(JULY 16, 2016) [JULY 21, 2017].

د لیکنې په سرلیک کې مطرح پوښتنه په ضمني ډول د «مسلمان» لپاره یو ډول مفهوم لري، د «میرمنې» لپاره یو ډول مفهوم لري، او د «خاورینې ولسواکۍ » (سیکولر دموکراسۍ) لپاره یو مفهوم لري.
ځینې خلک دي چې الکهول څښي، لمونځ نه کوي، روژه نه نیسي، خو ځانونه مسلمان ګڼي. دغه ډول «مسلمان» چې د ترهه ګرۍ (ټروریزم) عملیات اجرا کړي، نو بیا هم د «مسلمان» په نوم تېرېږي!
نن سبا [مسلمانې] مېرمنې د خپلو حقوقو په تلاش کې لګیا دي. کومې مېرمنې د ټولنیزاعتبار وړ دي؟ هغه چې دسمال یې په سر راتاو کړی وي، که هغه چې په بوقره (چادري) کې روانه وي!
آیا سیکولر ولسواکي د مېرمنو د سرلوڅۍ استازولي کوي، که د هغوی حجاب یا د سر دسمال؟
فرانس چې ځان ته د سیکولریزم د اتل په سترګه کسي، د مسلمانې د سر دُسمال/ د سر شال* نشي زغملی!
*)SCARF
آیا سیکولریزم د یو نوي دین په څیر وپالل شي؟ آیا د اسلام په ډي. اِن. اِې.*
*) DNA
کې مشکلات ډېره شوي دي چې مسلمانان په کې د ولسواکۍ سره سمون نشي کولی؟[ډي. اِن. أی. : پخپله تکثیرونکې ماده چې کروموزوم جوړوي او جنیټیک معلومات رسوي]. په اسلامي هیوادونو کې چې چا ماته ګوډه ولسواکي را مینځته کړې وه، هغه هم پنچر شوه.
د عالمي خور ډاکتر مونیا مزیغ پورتنۍ درنې لیکنې زما (ځیرکیار) پام دې پوښتنې ته راوګرځاوه: آیا دولت یو جومات دی چې دین پکې باید وچلېږي؟ د دین او سیکولریزم موضوع نوره هم پېچلې ده! په ۱۹۲۲ز کې د خدای سړي(متقي یولسم پاپ) د فاشیست بنیتو موسولیني(له ۱۹۲۲تر۱۹۴۵ د ایټالیې صدراعظم) سره ټلواله جوړه کړه**.
**) David I. Kertzer, The Pope and Mussolini: The Secret History of Pius XI and the Fascism in Europe. Random House Trade Paperback, Jan. 2015

د ملي سوشلیستي جرمن کارګرانو د ګوند مشر ادولف هیټلر په ۱۹۳۳ز کې د جرمني صدر اعظم شو.هیټلر نازي و او فاشیست موسولیني ته یې په درنه سترګه کتل. خو د هیټلر کارونه، د تجربه کار فاشیست موسولیني نه خوښېدل.
دواړه د پارلماني ولسواکۍ په ضد وو، دواړو ګډ څه نه لرل، خو ګډ غلیمان یې لرل (سوشلیستي شوروي اتحاد، لیبرال انګلیستان، او لیبرال فرانس). عرب د هیټلر پلویان وو، ځکه چې انګرېزانو او فرانسویانو د ۱۹۱۶ په می کې د «سایکس-پیکت» په نوم د پټ تړون له لارې د عربو په خاوره کې د خپلې خوښې کرښې ووېستلې ، د نفوذ ساحې یې رامینځته کړې او دعرب نیشنلیزم شمزۍ یې ماته کړه، نه د دین – لکه انګرېزانو چې د افغانستان په پاچا عبدالرحمن خان لعنتي ډیورند سرحد تحمیل کړاو ټول افغانستان یې له پرمختګ نه محروم کړ!
د ۱۹۷۹ز د دسمبر په ۲۵ نېټه، پخواني شوروي اتحاد په افغانستان یرغل وکړ. یوخپلسرې هېواد دوست سوشلیست حفیظ الله امین یې وواژه، او یو ټېټسری خبرلوڅ کمونیست یې قدرت ته ورساوه. د دې سره جوخت، د عرب او عجم (د اسلام او عیسویت) ټلواله جوړه شوه، او د ټول افغانستان د ژمي په پلازمېنه (پېښور) د وسلو، پیسو، او مدرسو باران پیل شو. دولس نیم کالونه وروسته د ۱۹۹۲ په اپرېل(غویی ۱۳۷۱ل) کې، په کابل ښارکې«اسلامي»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دولت رامینځته شو چي ما (ځیرکیار) په سرک الطوایفي او چورواکی نازولی و. دغه ډول محیرالعقول دولت یوه «شرعي» فتوه راوویسټله:«**د ښځو مکتبونه د زنا مرکزونه**»!؟ زه [ځیرکیار]چي ماشوم وم، سپین ږیري غلام سید شیخ به را ته د قرآن مجید د لوستلو چل راښود. شیخ کاکا تکړه بزګرو او خپله تکه سپینه ږیره به یي ډېره پاکه ساتله. ماته یي ویلي وو چي د مسلمان د ږیري په هر ویښته کي یوه ملایکه زانګي! ما چي په ۱۹۹۲م کي په افغانستان کي په تېره په کابل او نورو ښارونو کي د مجاهدینو کرغېړن، سپک، جنائي او تخریبي اعمال ولیدل، د اسلامي بې نظمی او چورواکی نه مي زړه تور شو.
خو وخت او شرایط بدلېږي. د ۲۰۰۱ز کال په اکتوبر کي خوارکی او جنګ ځپلی افغانستان، د زبرځواکي امپریالیستي امریکي د یرغل او جنګي تجربو ډګر شو. که پخوا به (د غلام سید شیخ کاکا د وینا له مخي) د مسلمان د زیري په هر ویښته کي یوې ملایکي زانګل، نو په افغانستان باندي د امریکي د بربـنډ یرغل راهیسي د جهادي مشرانو د ږیرو په هر مبارک ویښته کي یو میلون امریکایي ډالري زانګي. قسمت د هغو جهادي مشـرانو ښه دی چي (د لـوی کـندهار په اصطلاح) «کـونـاتـورې» ږیرې ولـــري! رحمان بابا ویلي وو:

چي ښبتن یی په خپل فضل ږمنځ نکړي
ښي ښي ږیرې به شي سپـکي لـکه درب

تولـنپوه پوهاند فیل زوکرمن کاږي چي: په هغوټولنو کي چي دین پکي برلاسی وي، د میرمنو مقام او شان پکي ټکنی وي او وظیفي یي محدودي وي. خو چېرې چي سیکولـریزم بریالی وي، د مېرمنو شان او مقام جګېږي. چېرې چي د ښځو او سړیو غیرمساوات یا بېعدالتي ټکنی وي، لـرخلک دیني وي او سیکولریزم پکي کوټلی وی.

Phil Zuckerman, Secularism and the Status of Women (psychologytoday.com ( 21 November 2014) [20 July 2017].

**دوه مسلمان مېرمنو د سیکولر مسلمانانو په خوځښت پسي ملا ترلې ده:**

ډېرخلـک په دې خـبردي چي «سـیکـولــر» یـهودان شـتــه دي. علـت یې ښایي دا وي چي جودایزم یواځي دین نه دی بلکي قومیت او کلتورهم دی. په امریکا کي «تـقریباً» ۱/۴ (۲۵٪) یهودان سیکولـردي. امریکایي یهودان په دین دومره ټینګار نه کوي لکه اسرائیلي یهودان یې چي کوي.
په ایتالیه کي دوه مسلمانو سومالي میرمنو (مریم اسمعیل او لیلی یوسف) د ۲۰۱۷ د اپریل په ۵ نېټه «د سیکولر مسلمانانو خـوځـښت» رامینځته کړی دی. مریم پخوا سیاستواله او انجینره وه، او لیلا د ذکر شوي خوځښت موسسه ده. دغه خوځښت غواړي چي د روان کال(۲۰۱۷) په منــي کي د بین الملي سیکولر اسلام د کنفر انس لپاره تیاری ونیسي.
مریم او لیلی دواړه د سیاسي اسلام سره په ټکر کي دي، نه د عـبادتي اسـلام سـره! دواړه په دې هیله دي چي دین او دولت دي له یو بله جلا وي. لیلا یوسف سیکولــر مسلمانان او امامان غواړي، لکه په فرانس کي چي «مترقي» امام تارق اُبـرو دی. دغه امام په مراکش کي زېږېدلی و او د «مترقي»اسلام او «ریفورم شـوي» اسـلام په لټه کي دی. امام اُوبرو د ترهه ګری او افراط په ضد، په«وقایوي/احتیاطي الهیاتو»* بوخت دی. [سیکولـریزم د میرمنو غټ ملګری معلومېږي].

*) preventive theology
Anna Momigliano, “What does it mean to be a ‘Secular Muslim’?” (theathlantic.com :27/4/2017) [15/7/2017];Sigal Samuel,”Should France have its own version of Islam?”(theatlantic.com(25/04/2017)

**د سیکولـریـزم نظـریه او تــمـایـل:«مـهربان او نوعه دوست زوزات»**

په دغه اړه په ټولنپوهنه/سوسیالوجي کي داسي نظریه شته چي هرڅومره ټولنه د پرمختګ او نوښتګری په لار روانه وي، دین په ځټ کبېږي او تـشـېــږي. پوهان په دې باور وو چي پــوهــي او ذکاوت د روڼ آندتیــا(تنویر) د پېــر سره تـراو لاره، خو د دیني عقیدي له نظره یې د کـفـر مقام ګټلی و. کارل مارکس(۱۸۱۸تر ۱۸۸۳م)، ایمیل دورکهایم(۱۹۱۷-۱۸۵۷)، مکس ویبر(۱۹۲۰-۱۸۶۴)،او امریکایی فیلسوف او ساپوه ویلیم جیمس(۱۹۱۰-۱۸۴۲) هغه کوپړی وې چي ذکر شوي دیني زوال ته یې ګوته نیولې وه. د شلمي پــېــړۍ نامتوامریکایي ټولنپوه س. رایت میلز(۱۹۶۲-۱۹۱۶) په ۱۹۵۹ کي په دې فکـر و چي دین به په غیـر لـه شخصي قلمرو نه، ورک شـي. په انګلستان – ویـلس کي ۶۶٪ خلک د دین سره هیڅ ډول تـماس نـلري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

Peter Clark (editor), Oxford Handbook of the Sociology of Religion. OUP Oxford; reprinted (3 Feb. 2011)

پوهاند کلارک د اکسفورډ پوهنتون د الهیاتو د پوهنځي غړی دی. نن انسانان(په کار،سیاست، ټولنه،تعلیم، معلوماتو، په کورکي ژوند او ساعت تېرې کې) مصروف دي. هر څومره چې د انسان د ژوند غیردیني برخې کوټلې کېږي، هغومره د دین برخه ټکنۍ (ضعیفه) کېږي.

Vexen Crabtree, ”Definitions  of Secularization Theory: Why is Religion Declining? (humanreligions.info 25 August 2016 [5 June 2017]. Phil Zuckerman,Religion declining, secularism surging (huffingtonpost.com 13 May 2017) [27 July 2017].

د ویکسن کربټري د څېړنې له مخې، په ۲۰۱۴ کې د «یوګو رای شمېرنې» له مخې، ٪۷۷ برتانوي عوامو ویلي وو چې ډېر یا بلکل دیني نه وو. ویکس کربټري په بله تبصره کې کاږي چې: «د انګلستان کلیسا» نور نشي کولی چې په اوسني ډول خپل فعالیت وغځوي، خو داچې نزولي وضعې ته د اضطراري حالت په کچه پاملرنه وشي(د یُورک د سترمولوي اخطار)! کلیسا به په یوه لسیزه کې د مولویانو په کمښت اخته شي، ځکه چې د اوسنیو مولویانو نږدې نیمایي برخه تقاعد ته رسېږي. د دیني ارادتمندانو مخ په زوال شمېربه کلیسا د مالي انقراض سره مخامخ کړي- سره له دې چې اوس هم د تاریخي تعمیرونو د ساتنې د مشکل سره مخامخ ده. دغه شان: په برتانیه کې په ۲۰۰۶ز کې: ٪۱۰ خلک په اونۍ (هفته) کې یو ځل کلیسا ته تللي وو، ٪۱۵ لږترلږه په میاشت کې، ٪۲۶ لږ تر لږه په کال کې. خو بشپړ اکثریت: ٪۵۹ هېڅکله کلیسا ته نه و تللی.

“The British public, both adults and children, are almost wholly ignorant of the basic facts surrounding Christianity and other world religions.” – Vexen Crabtree, “Religion in the United Kingdom: Diversity, Trends and Decline” (vexen.co.uk 2012)  [27 July 2017].

په ۲۰۰۷ز کې د امریکې په دیني منظره کې ٪۷۱ امریکایانو په خدای عقیده لرله. خو ۷ کالونه وروسته په ۲۰۱۴ز کې، دغه شمېره له ٪۷۱ نه ٪۶۳ ته راولوېده. هغه امریکایان چې په کوم دین پورې تړلي نه وو، په ۲۰۱۴کې د بالغ نفوس ٪۲۳ وو. خو په ۲۰۰۷ز کې یې شمیره ٪۱۶ وه. یعنې په ۷ کالونو کې یې ٪۷ زیاتښت کړی و.

“U.S. Public Becoming Less Religious”, (pewforum.org 3 November 2015) [27 July 2017].
په امریکا کې د شیکاګو پوهنتون د څېړنې له مخې، هغه ماشومان چې په غیردیني کورنیو کې لوی شوي دي «ډېر مهربان او نوع دوست» دي نسبتاً هغو ماشومانو ته چې د دین سره لوی شوي دي. په دغه تحقیق کې ۱۱۷۰تنه، ۵ تر ۱۲ کلن ماشومان په شپږ هېوادونو کې(کاناډا، چین، اُردُن، ترکیه، د امریکې متحد ایالتونه، او سهیلی افریقا) د تحقیق لاندې نیول شوي وو، او د هغوی د کورنۍ دیانت او د والدینو له خوا د ماشوم «احساس او د عدالت په اړه د هغوی زړه سواندتیا تر کتنې لاندې نیول شوي وو.» دغې تجربې و ښودل چې د کورنۍ دیني هویت د ماشومانو ایثارمند سلوک «ټیټوي.» په بله وینا، هغه ماشومان چې د دین په غیاب کې لوی شوي وي، ډېر سخي وي.

Patheos.com  (November 5, 2015) [22 July 2017].
د سیکولر فعالګرتیا د زده کړې لپاره لاندې کتابونه ولولئ:
Dan Arel, The Secular Activist: A How-to Manual for Protecting the Wall between Church and State. Pitchstone Publishing Oct. 2016; Dan Arel, Parenting Without God: How to Raise Moral, Ethical and Intelligent Children Free from Religious Dogma. Pichstone Publishing; Reprint (September 2015).

**سیکولریزم د خراساني/افغان شکور زردشتیان له نظره:**

**SHUKOOR ZARDUSHTIAN, SECULARISM IN AFGHANISTAN. IUNIVERSE, INC. BLOOMINGTON, IN :2011**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ما د شکور زردشتیان د کتاب ځیني برخې په اینټرنیټ کې ولوستلي، نه ټول کتاب. په کتاب کې ځیني برخې په فارسي هم لیکل شوي دي. زردشتیان د کتاب د لیکلو او خپرولو په مهال لکه چې د امریکې د مریلنډ ایالت په لاوریل ښار کې استوګن و. په ګمان سره د افغانستان په شمالي سیمو کې به زیږېدلی وي او هلته به یې نهم یا ۱۲ ټولګې بشپړ کړی وي. د بدخشان په کرهڼې مدیریت کې یې مصروفیت لاره. [د پخواني شوروي اتحاد] د یوکراین ایالت په پوهنتون کې یې په کرهڼه کې ماسټري لاسته راوړې وه. په بیروت پوهنتون کې یې هم درس ویلی و[خود درس خانګه یې نه ده ښودلې]، ۲۸۰مخ.
زردشتیان په «فیسبوک.کام[۱۰جولای ۲۰۱۷] کې لیکي چې د بغلان ولایت په اندراب کې په ۱۹۳۵ز کې زیږدلی و. خو د زردشتیان د کتاب نوري اړوندې چینې د هغه د زیږېد ځای په اړه لیکي چې په کابل کې یا «کابل ته نږدې» زیږېدلی و. زه نه پوهېږم چې د زوکړې د ځای بدلون به د څه او/یا د چا لپاره ګټور و؟ ښایي «زردشتیان» به یې پټ(مستعار) نوم وي؟ لیکوال کاږي چې: «ما دا کتاب په اختفا[پټ ډول] ولیکه ځکه د دیني[اسلامي]تلقین له امله زما زوزات او دوستان لعنتي شوي دي او فکر کوي چې نفرت انګیز» څه به لیکوال ته پیښ شي. «حتی» هغه «روڼ آنډې میرمن» چې د زرشتیان د کتاب فارسي نسخه یې په انګریزي اړولې وه، «داریډله» چې د زردشتیان په کتاب کې یې نوم ذکر شي. ۳۱۸تر ۳۱۹مخونه.

barnesandnoble.com[ 10 June 2017]: “Shukoor Zardushtian was born in Kabul, Afghanistan….”; amazon.com[10 June 2017]:”Shukoor Zardushtian was born near Kabul,Afghanistan.”; books.google.com:”Shukoor Zardushtian was born near Kabul, Afghanistan.”; abebooks.com[Synopsis: 29 July 2017]: ”Zardaushtian was born near Kabul”.

زما (ځیرکیار) د ټکنی مطالعي او مشاهدې له مخې، سیکولر(غیردیني) اشخاص عموماً ارام انسانان وي او له دولت نه بهر د چا د دین په ضد نه وي. هغوی په دې کې د یو هېواد د وګړو ګټهویني چې دین دې په دولت کې نه وي، خو له دولت نه بهر په ټولنه کې ولس حق لري چې دین یا دینونه ولري یا یې ونلري.
شکور زردشتیان څو ځلې اسلام ته «عرب دین» ویلی دی، او د اسلام پیغامبر یې د «عربانو پادشاه» ګڼلی دی(۳۰۱مخ). لکه څنګه چې څوک د دوه جرمن مفکرینو (فریدریش اینګلز او کارل مارس) تاریخي ماټیریالیزم او ډیالیکټیک ماټیریلیزم ته د جرمنیانو مفکوره نه وایي، دغه شان مناسبه نه بریښي چې یو څېړونکي دې د نړۍ دوهم غټ دین (اسلام) «عرب دین» ته راټیټ کړي او د اسلام پیغامبر «د عربانو پادشاه» ته. زردشتیان «د قاتل اسلام شرمونکي تاریخ» ته ګوته نیسي(۳۲۱مخ). زردشتیان لکه چې د صلیبي جنګونو له نږدې ۲۰۰کلن تاریخ(۱۰۹۵تر ۱۲۹۱ز) نه خبر نه دی، او له ۱۹۱۶ راهیسې د لویدیز امپریالیزم له خوا د مینځني ختیز په وېش او په خپل وطن کې د فلسطینیانو له بې وطنی نه ناخبره بریښي. ټامس ف. میډن لیکي:صلیبي جګړې «توروداغ دی خاصتا دکاتولیک کلیسا او عموماً د لویدیز تمدن په تاریخ باندې.» ولولئ

T.M. Madden,The Real History of the Crusades” (Christianitytoday.com (May 6, 2005). Karen Armstrong***,** Holy War: The Crusades and Their Impact on Today’s World. Anchor Books; 2nd edition (Nov. 2001). Karen Armstrong*, Muhammad: A Prophet for Our Time. HarperOne, Reprint edition August 2007. Rashid Khalidi, The Iron Cage: The Story of the Palestinian Struggle for Statehood. Beacon Press, Boston, 2006. Jimmy Carter, Palestine: Peace Not Apartheid. Simon & Shuster, September 2007. Peter Beinart, The Crisis of Zionism. Picador; Paperback (April 2013). Edward W. Said, The Question of Palestine. Vintage; Reissue edition (April 1992). Edward W. Said (Author), Christopher Hitchens (Editor), and 9 others,Blaming the Victims: Spurious Scholarship Palestinian Question. Verso; subsequent edition (Sept. 2001). Ilan Pappe, The Ethnic Cleansing of Palestine.Oneworld Publications;Reprinted edition (Sept. 2007).

(*) [کیرېن ارمسټرانګ پخوا کاتولیک راهبه وه. د دغې انسان دوستې او په دینونو کې د ارتې مطالعې د خاوندې اثار په ۴۵ ژبو کې ژباړل شوي دي، او نن نه یواځې یو علمي شخصیت دی بلکې بین المللي سوله دوست شخصیت هم دی: ارمسټرانګ د امریکې کانګرس، د امریکې د بهرنیو چارو وزارت، په نیویارک کې د نړۍ اقتصادي فوروم(د تبادل نظر غونډه)، په امریکه کې د بهرنیو اړیکو جرګې ته ویناګانې کړې وې، او اوس د ملګروملتونو د تمدنونو په اتحاد کې سفیره ده.]- ځیرکیار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زردشتیـان لیکي چې:«سیکولریزم دینـي خوځښت نه منحلوي یا منع کوي،خوپه سیاسي ډګر[دولت]کې د دین قدرت محدودوي.»۳۱۵مخ. خو لیکوال په عین مخ کې لږ وړاندې،لیکي چـې د ده د«کتاب ډکون په واقیعیتونو[فکټس] او قصو[فیکشنـز] ولاړدی چې له اعتباري چینو راوتلی دي....د دې لپاره چې له دغه ډول حماقت اوخرافاتو[«وارد شوي اسلامي دین»] نه ځان خلاص کړو، موږ باید د منطق له لارې له بې منطقۍ او خرافاتو نه ځان خلاص کړو....سیکولریزم دیني خوځښت نه منحلوي یا منع کوي، خو په سیاسي ډګر کې د دین قدرت محـدودوي.»-۳۱۵مخ.
زردشتیـان کاږي چې «اسلام(تنګ نظره او غلا شوی) دین د بې تمدنه او نالوستو، او بې مسولیـته اشخاصو د یوې ډلې په واسطه جوړ شوی» و(۱۶مخ). «له هرڅه وړاندې، قران[مجید] د ادبي غلا یو کتاب دی...، او اصلي قرآن نه دی، او موږ باید په دې لټه کې شو چې په اصلي قـرآن څه وشول.» ۱۹مخ. اتا تُـرک «د کوچیانو دین ته کلکه څپېړه ورکړه.» ۲۱مخ. زردشتیان خپل «تلقین شوي دوست» ته بلنه ورکوي چې «د واردې شوې عرب ایـډیالوجۍ (توره، جهاد او د لمانځه اداب) د بېرته صادرولو لپاره غبرګ شو.» زردشتیان زیاتوي چې: د«اسلام تنګـنظره او غلا شوی دین د یو بې تمدنه، بې سواده او بې مسولیته ګروپ» له خوا جوړشوی و- ۱۶مخ.
شکور زردشتیان ستمی خراسانی دی او ځکه یې د خپل کتاب د اصلي موضوع (سیکولریزم) د چترۍ لانـدې، د افغانستان په اکثریت(پښتنو) د «نژادی ستم» ټاپه وهلې ده! د ستمي خراساني زردشتیان کتاب له فارسي نه په انګریزي ژباړل شوی دی. د سیکولریزم په اړه مـهـم فارسي شعرونه یې په اصلي فارسي ژبه کې په کتاب کې خپاره کړي دي، نه په انګریزي ژبه کې.
خراسان-مزاجه شکور زردشتیـان لیکي چې «افغانستان په تېر وخت کې خراسان نومېده.... زما مورنی هـېواد خراسان (اکامیک هېـواد) له لسمې پېړۍ ۹۹۸ نه تر ۱۹۹۳[اپـرېل ۱۹۹۲ز/غویي ۱۳۷۱لمریز]پورې، د بـهـرنیانو په واسطه د دموکراتیک حکومت د ړنګېدلو پورې یو سیکولر[غیردیني] دولـت و.... دین پوهـه نه ده....د مینځني ختیـز د افسانو الهیـات
دي، یوه بې مـېوې ونه ده.»-۱۲تر۱۳مخونه. زردشتیان بل ځای کاږي چې: «اوس د خراساني، ایـراني او پاکستاني مـېـرمنو لپاره مناسبه موقع ده چې د انقلابي خوځښت د جوړولو لپاره غبرګې شي، د خپلې آزادۍ لپاره مبارزه وکړي،د دیني او وروسته پاتی بنیادګرایی [بنسټولی] له تسلط نه ځانـونه خلاص کړي او د دموکراتیک او سیکـولـر ټـولنې په لـوري لا زیـات زور ووهـي.»-۳۳۲ مخ.
زردشتیان په پښتنو بانـدې د «نژادي ستم» ټاپــه په فارسي کې خپره کړې ده:«نابرابری بازار تربیت و پـرورش در عـفـغـانسستان[افغانستان] بنا به زبردستی ایل پشتون درجامعه در دراز مـدت که همه امتـیازات روانـي و تـنـی به اوشان داده میـشد روشن که میتوان آنـرا ســتم نـژادی نامید چـرا که دسته های دیګـر زیـر نـام ایل کمترین از چـنان خـورد و نـوش کـنار زده شدنـد.»-۳۴۹مخ. په دې دلیل چې دا ادعا د اصل موضوع (سیکـولـریـزم) سره اړخ نه لګوي،زه به پرې په نـږدې راتلـونکې کې رڼا واچوم، نه اوس! شکور زردشتیان ته د سلیمان لایق لاندې شعـر خوند ورکړی دی

لرغونی بامیـان وران سـو د پنجاب په افتخار — معصوم بودا شهید سو په چاله د استکبار
فیـصـل زمـوږ امام سو، اُسـامه زمـوږه پـلار — کابل چړي خانه سوه د عـربـو د نـاتـار
۲۹۸ مخ

روغه به دا وای چې زردشتیان په خپل کتاب کې د افغانستان په ځای خراسان کارولی وای او ځان یې خراسانی معرفي کړی وای، نه افغان!

**په اسلام کې د دولت او جومات په مینـځ کې لیـکه نـشتـه:**

په مصر کې د اخوان المسلمین نوماند(کاندید) محمد مُرسي د ۲۰۱۲ په جون کې انتخابات په۵۲٪ وګټل. په مقابل کې یې د مخلوع ولسمشر حسنی مبارک د مهال صدراعظم احمد شفیـق انتخابات وبایلل. خو د مصر نوی ولسمشر محمد مرسي یو کال وروسته د ۲۰۱۳ په جولای کې له ګټلي مقام نه د عسکرو په واسطه وتمبول شو. مُـرسي د خپل هېواد لومړی ولسمشر و چې د دموکراتیک انتخاباتو له لارې قدرت ته رسېدلی و. خو عسکري مشر عبدالفتاح الیسي له قدرته لرې کړ. حسنی مبارک نـږدې ۳۰کالونه ولسمشر و(۱۹۸۱تر ۲۰۱۱). په مصر کې پاڅون د ولس د بې وزلۍ او په ولس باندې د فشار له امله پیـل شوی و! خو خوځښت له سازمانـي- تشکیلاتی مشرتابه بې برخې و. روڼ آندانو په پاڅون کې مرسته کـوله، خو سازمان یې نـه لاره چې د پاڅونوالانو ملاتړ وکړي او لارښودنه ورته وکـــړي. د پېښو له ډکـون نه سرې داسې پـوهـېـږي چې د حسنی مبارک د استبدادي حاکمیت په وړاندې، د ولـس عکس العمل ناڅاپي و،نه تنظیمي!
دین په اطاعت او تسلیمۍ چلـېـږي. په لویدیزه نړۍ کې کلیسا د پېړیو پـه اوږدو کې په اوج کې وه. دا هغه مهال و چې سیاسي واګې د پاچاهانو، پاپانو،امپـراتورانو، او قـدرتمـندوخپلوان پالانو (نـیـپوتـیـزم) په ولکه کې وې، او د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ولس او قدرتمندانو په مینځ کي اقتصادي او سیاسي نا انډولتیا په زرپ کي وه. له دې امله دغه ډول جوړښت د ولسواکۍ سره نشو جوړېدلی. خو دغه ډول دیني، سیاسي او اقتصادي تړلوالي ته د «رینسانس» (نوښتګري/تجدد) او «روڼاندتیا» (تنویر) پیرونو پاټک واچاوه. مفکرین لکه رېني دیسکارت(۱۵۵۶تر۱۶۵۰)، جان لاک (۱۶۳۲تر۱۷۰۴)، باروچ سپینوزا (۱۶۳۲تر۱۶۷۷)، کنټ (۱۷۲۴تر۱۸۰۴)، ولټېر (۱۶۹۴تر۱۷۷۸)، روسو(۱۷۱۲تر۱۷۷۸)، هیوم (۱۷۱۱ت۱۷۷۶)، اوهېګل (۱۷۷۰تر۱۸۳۱) د دې ورشو برابره کړه چې کارل مارکس(۱۸۱۸تر۱۸۸۳)، ارترشوپینهاور (۱۷۸۸تر۱۸۶۰)، مارتین بوبر (۱۸۷۸تر۱۹۶۵) اوپاول سرترې (۱۹۰۵تر ۱۹۸۰) په نولسمي اوشلمي پېړیوکي زړې عنعنوي پردې وشلوي.
اسلامي نړۍ هم د خپل رنسانس(نوي ژوند) زریني پېړۍ لرلي(له اتمې نیمایی پېړۍ تر دیارلسمې نیمایي پېړۍ) چې د علومو، ریاضیاتو او ادبیاتو زړي پکي کرل شوي وو. خو دغه دوره چې پای ته ورسېدله، بیا یې ویاړ او جلال تریتم شول. داسي بربښي چې په اسلام کي دیني انضباط د دې تومنه نلري چې دنیوي(خاوریني) اسلامي ولسواکۍ ته لار هواره کړي او د دولت(اداري ماشین) او جومات په مینځ کي لیکه ومني.
د دین او دولت په مینځ کي بېلتون نوکي تېغی وواهه. خوله بدې مرغي هغه هم په لړو، خو ډېر مطلق العنان رژیمونو کي: د قدافي لیبیا، د حافظ اسد سوریه، د صدام حسین عراق، د مصرجمال عبدالناصر(۱۹۵۶تر ۱۹۷۰) او ورپسي د لسو کالونو لپاره انور سادات(۱۹۷۰تر۱۹۸۱- ووژل شو)،او بیا د ۳۰ کالونو لپاره حسنی مبارک (۱۹۸۱تر۲۰۱۱). جګ - لګښته لوړ تعمیرونه او قیمتي سړکونه د موډرنیزم نندارتون تمثیلولی شي، خو د ولسواکۍ استازولي نشي کولی.
دین په اطاعت او تسلیمۍ چلېږي. خو لیبرالیزم آزادۍ ته وایي، په آزادۍ چلېږي او د انسان آزادي غښتلي کوي. په واشینګتن(ډي. سي.) کي «فریډم هاوس» (د خپلواکۍ کور) په پنځوس(۵۰) مسلمان-اکثریته هېوادونو کي، یواځي یو اسلامي هېواد ته ګوته نیولي ده چې د «آزاد» هېوادونو په ډله کي شمېرل کېدلی شي: تونېس! او کوویټ قسمتا آزاد(۲۰۱۶). ولولئ

Alon Ben-Mehr, Is Islam Compatible with Democracy? (huffingtonpost.com)[16-06—2017]; straight.com(July 9, 2013) [16-06-2017]

**نور بیا**

Dr. rer. pol. Rahmat Rabi Zirakyar, Califorina, USA
zirakyar1234@yahoo.com



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ